مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

علم گل سحر ۲۰۲۱/۰۲/۲۱

# مرګ او ژوند

**مرګ دومره سخت هم نه دی**
**او دومره لیرې هم نه**
**مرګ او ژوند دواړه سره خوا په خوا دي**
**مرګ او ژوند دواړه په یو کور کې اوسي**
**مرګ د دوو سترګو په کونجو کې اوسي**
**ژوند هم هغلته میشت دی**
**خو موږ د ژوند په قدر نه پوهیږو**
**موږ ته ژوند ښکلی نه دی**
**موږ خپله بد یو او بدیو ته مو ډیر ورپام وي**
**ښکلا لیدلی نه شو**
**ژوند موږ ته بد ښکاریږي**
**موږ د ژوندون په ارزښت نه پوهیږو**
**موږه سکه وایو چې همیش ژوندي یو**
**موږه کیني کوو، له یوبل څخه کرکه لرو**
**فکر کوو مینه به وروسته وکړو**
**مرګ راته لیرې ښکاري**
**له مرګ ویرېږو راته لیرې ښکاري**
**خو مرګ نږدې دی، دومره لیرې نه دی**
**مرګ د دوو سترګو په کونجو کې اوسي**
**ژوند هم هغلته میشت دی**
**زه پرون مړ شوم، پرون بیا ژوندی شوم!!!**

۲۰/ ۷/ ۱۳۹۲
کابل- کلوله پشته
علم گل سحر


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ